مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد صدیق روهي
۲۰۱۹/۰۴/۰۹

# «پټه خزانه في الميزان» د کره کتني په تله کې

## ليکوال: اروابناد کانديد اکادميسين محمد صديق روهي

## د «ادبي تحليلونه» له کتاب څخه

**پس منظر:**



کانديد اکادميسين استاد محمد صديق روهي

د شلمي پيړۍ په دريمه لسيزه کې دنشنلزم څپې د نړۍ ګوټ، ګوټ ته ورسيدې. نشنليزم مثبت او منفي اړخونه درلودل. دلته د مثبت او منفي يو يو مثال وړاندې کوم. د مثبت اړخ مثال يې دا دی چې نشنلزم په قومونو کې کهترۍ (inferiority complex) احساس له مينځه يوړ او هغوی يې له استعمار سره د مقابلې او د خپلو فرهنګي مواريثو د را ژوندي کولو د پاره چمتو کړل. منفي اړخ يې دا و چې د قومي تفوق او امتياز غوښتني د پاره يې ځمکه هواره کړه.
افغانستان هم له دغې منفي اغيزې څخه بې برخې پاتې نشو، خو د افغانستان په لويديخ ګاونډي هيواد کې افراطي تفوق غوښتنه له پراختيا غوښتني سره ملګرې شوه. د پراختيا غوښتني د سياست له امله د دغه هيواد خلکو د خپل هيواد نوم د دې د پاره بدل کړ(۱۹۳۵ ع کال) چې د يوه بل هيواد پر خاوره، تاريخ، ژبې او ثقافت باندې غيره راوګرځوي. هغوی په پښتنو دا هم نه لوريده چې په خپله ژبه ليک او لوست وکړي. نو کله چې «پټه خزانه» رابرسيره شوه، دوی د هغې پر ضد د تبليغاتو خزانه په کار واچوله او هغه يې جعلي اثر وباله.
دوی هيڅ سند نه درلود، ځکه چې هغوی نه پښتو پوهيدل او نه يې د پښتو ادب په باره کې معلومات درلودل.
د هغوی د تبليغاتو محرک يو ړوند ايتنو سنتريزم (ethno centrism) و. خو دا هم بايد وويل شي چې د دوی پرله پسې تبليغات د زيات تکراريدو په وجه بې اغيزې پاتې نشول او د هغو خلکو په مغزو کې يې د شک تخمونه وکرل چې د بې سنده او بې دليله تبليغاتو تر اغيزې لاندې راځي. سره له دې، د اکثره پښتنو دا خيال و، چې د نومړي کتاب پر ضد پروپيګنډه د پښتنو د مخالفانو کار دی، پښتانه فرهنګيان د «پټې خزانې» د صحت او اصالت په باره کې شک نه لري.
په ۱۹۷۶ ع کال کې يو پښتون ليکوال د پښتو اکيډيمۍ په مياشتنۍ مجله کې يوه مقاله خپره کړه او په هغه کې يې د «پټې خزانې» د صحت او اصالت په باب شکوک ښکاره کړل.
د تعجب خبره ده چې د دغې مقالې په باره کې چا کومه تبصره ونه کړه. زه چې په هغه وخت کې د پښتو ټولنې رييس وم، د نومړې مقالې له خپريدو څخه خبر نشوم. په ۱۹۷۹ ع کې هماغه ليکوال په هماغه سلسله کې يوه بله مقاله هم نشر کړه. په دغه وخت کې د افغانستان فضا د سياسي بحران په تورو لړو پټه شوې وه او د فرهنګي اختناق په وجه اکثر فرهنګي شخصيتونه د دغې مقالې له خپريدو څخه ناخبره پاتې شول. د پښتو ادب دوو يا دريو تنو محققانو چې د «پټې خزانې» په باب يې د ښاغلي قلندر مومند مقالې لوستي وې، د علمي سمينارونو په جوړولو سره يې په غير مستقيم ډول د نومړي اعتراضونو ته ځوابونه ورکړل. بنايي دا پوښتنه وشي چې ولې غير مستقيم ځوابونه ورکړل شول؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

لومړی دلیل دا دی چي تقریباً پنځوس کاله پښتو ادبیاتو او محققانو له «پټي خزاني» څخه د پښتنو د دښمنانو په وړاندي دفاع کړې ده او دغه کتاب پښتنو فرهنګیانو ته د ملي وثیقي او ملي وياړ حیثیت غوره کړی دی. هیڅوک نه غواړي چي د خپلو مقدساتو او یا افتخاراتو په باره کي د چا اعتراضونو ته هرکلی ووایي او یا ورباندي زیات بحث وکړي. دا البته منطقي دلیل نه دی، بلکي سایکالوجیک یا روحیاتي دلیل دی.
دوهم دلیل دا دی چي په کابل کي هغه وخت موجود حکومت په پښتو پسي راخیستي وه، پښتانه روښان فکران یي ځورول او بدنامول؛ د پښتنو پر ضد یي داسي کتابونه چاپ کړل چي په هغو کي پښتانه د افغانستان په اشغال متهم شوي. پښتانه یي د افغانستان اصلي اوسیدونکي نه ګڼل، دوی یي بې فرهنګه بللاو پښتنو ته سختي کنځلي په کي شوي وې. که پرچمیان د ښاغلي قلندر مومند مقالو ته متوجه شوي وای نو هغه مقالي به يي د لکونو په تیراژ چاپ کړې وای او ترجمي به يي همسایه ملکونو ته استولي وای.

## هدف:

د «پټه خزانه فی المیزان» لیکونکی زیار ایستلی دی دا خبره ثابته کړي چي «پټه خزانه» د ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبي تالیف دی.
زما د مقالي هدف دا دی چي د محترم قلندر مومند د «پټه خزانه فی المیزان» د نقد او تحقیق اسلوب وڅېړم چي آیا ده خبره د شک نه ایستلي ده که نه؟ زما په نظر، د علمي تحقیقاتو په نړی کي هر څوک د شک کولو حق لری، خو شک کول د ثبوت معنا نه لري.
لومړی انسان شک کوي، له شک نه وروسته یوه فرضیه (hypothesis) جوړوي، د فرضیي د اثبات د پاره کافي مواد (data) برابروي، له ازمویني وروسته د خپلي فرضیي په صحت او سقم پوهیږي.
که د سیاسي تبلیغ خبره وي نو د خلکو په اذهانو کي شک پیدا کول ډیره موثره وسیله ده. که د عقیدي خبره وي نو دین یا عقیده هیڅا ته د شک کولو حق نه ورکوي. خو کله چي د علمي تحقیقاتو خبره وي هلته شک د علم د پاره ضرور دی. خو، لکه مخکي مو چي اشاره ورته وشوه شک کول د ثبوت معنا نه لري.
د دي خبري د توضیح لپاره به یو مثال راوړم: ښاغلی غني ښاغلی قلندر ښه نه پیژني او د ده له علمي تحقیقاتو څخه ناخبره دی، خو کله چي ښاغلی غني د ښاغلي قلندر «پټه خزانه فی المیزان» لولي نو تعجب کوي چي ده دا دومره معلومات له کوم ځایه پیدا کړي دي.
په پای کي ښاغلی غني شک کوي چي «پټه خزانه فی المیزان» به د ښاغلي قلندر د څېړنو او پلټنو محصول وي. لیکن د ښاغلي غني شک د ثبوت د پاره کفایت نه کوي، هغه باید داسي فاکتونه او معلومات راغونډ کړي چي د ده شک د ثابتولو د پاره کافي وي.
دلته دا هم باید وویل شي چي د ښاغلي غني شک په عمل کي چنداني ارزښت نه لري ځکه چي دا د یوه شخص د پوهي په باره کي دی. خو کله چي «پټه خزانه» مجعول او له ځانه جوړ شوی اثر وګڼل شي هلته د یوه ملت د فرهنګي خزاني د مینځه تللو مساله مطرح کیږي.
ښاغلی محقق قلندر مومند د «پټه خزانه فی المیزان» لومړي مخ کي لیکي: «ما په افغانستان کي چي کومو ورونو سره په دي سلسله کي د بحث کوشش کړی دی، د هغو اصرار دا و چي د دي کتاب د صحت په هکله شکوک ښکاره کول د قومي مصلحتونو سره سمون نه خوري. د دوی په ځواب کي زما موقف تل دا و چي هغه قومي مصلحت چي د انتقاد نه اوچت وګڼلی شي، په حقیقت کي د قومي مفاداتو خلاف وي.»
زه پخپله هم په دي عقیده یم چي مونږ باید د خپل فرهنګ بنسټ په درواغو او جعلیاتو بنا نه کړو خو د دي تر څنګ دا خبره هم باید هیره نه کړو چي د شهرت او ځان ښودلو په خاطر د خپل قوم په افتخارانو لوبي کول د قومي مفاداتو خلاف عمل ګڼل کیږي.

## د متنني کره کتني میتود:

متني کره کتنه (Criticism textutal) د نړی د فرهنګ په تاریخ کي اوږده سابقه لري. له ادبي کره کتني سره د متني کره کتني توپیر دا دی چي ادبي کره کتنه د یوه اثر هنري ارزښت څېړي، په داسي حال کي چي متن کره کتنه د یوه اثر اصالت او صحتاو د اعتبار یا وثوق اندازه معلوموي. کله چي د یوه اثر لومړی نسخه په لاس کي نه وي، متني کره کتنه د اصلي (original) نسخي د احیا کولو د پاره هم زیار باسي.
په اجتماعي علومو (social sciences) کي ډیره ځله له احصاییوي قانون ګټه اخیستل کیږي او د یوي فرضیي د احتمال درجه اهمیت پیدا کوي، خو په متني کره کتنه کي د یوه اثر د صحت او اصالت د تثبیتولو د پاره کله کله یو مهم دلیل د برهان قاطع درجي ته پورته کیږي. سره له دې، په اجتماعي علومو کي د برهان قاطع پیدا کول ډیر مشکل کار دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اجازه راکړئ دا خبره د یوه مثال په ترڅ کي بیان کړم:

«پټه خزانه فی المیزان» په (۱۷۰ -۱۷۲) مخونو کي لیکي: « پوهاند رشاد وايي: د (ځ) اوسنی مروج شکل چې د (ح) پر همزه (ء) کښلي دي، د وزیر محمد گل خان مومند ایجاد دی چي وروسته عام شو او په لروبر پښتونخوا کي رواج وموند (۲۸) د فاضل پوهاند دا تحقیق په دې لحاظ ډیر اهم دی چي دوی په کوم کتاب کي دا تحقیق کړی دی، د هغه په تالیف کي ورسره په مشرانو کي مرحوم حبیبي او مرحوم بېنوا هم شامل دي او تر اوسه د دې مشرانو له خوا د دې مقالي د دې حصې واضح تردید نه دی شوی. ځکه نو موږ مجبور یو چي د فاضل پوهاند رشاد دا تحقیق د لیک دود په باره کي د افغانستان متفقه موقف وګڼو.

که د (ځ) دا توری د وزیر محمد گل خان مومند ایجاد وي نو د «پټي خزانې» د حقانیت او قدامت د حامیانو په خدمت کي زه دا حقیقت پیش کول غواړم چي وزیر محمد گل خان مومند عین په هغه کال کي پیدا شوی دی، په کوم کال (۱۳۰۳ هـ) چي د پټي خزانې دوهم کاتب «محمد عباس کاسي» خپل کار «باستعجال تمام» خلاص کړی ... نو د پټي خزانې په املا کي د (ځ) استعمال د دې نه بغیر بل هیڅ تشریح نشي کیدای چي «پټه خزانه» د محمد گل خان مومند د سن شعور ته د رسیدو نه پس ته دور کي لیکلی شوی کتاب دی او ځکه نو دا سروپ دروغ دي چي دا کتاب په (۱۳۰۳) کي لیکلی شوی دی.

د خیرالبیان په چاپ کي برخه اخیستونکي مهربانان ... د کتاب د چاپ کیدو نه پس تر اوسه یعنی تر ۱۹۸۶ ع د فاضل پوهاند رشاد په تحقیق خاموشه پاتي شوي دي او ځکه د خپلي خاموشی په وجه یي دا ثابته کړې ده چي دوی ورسره متفق دي ... د فاضل رشا دا بیان د «سلطانی گواه» د بیان حیثیت لري.

د دغه اوږده اقتباس نه څرګندیږي چي د ښاغلي قلندر مومند «سلطاني گواه» هماغه برهان قاطع دی یعنی د ده په عقیده همدغه یو دلیل کافي دی چي «پټه خزانه» یو جعلي اثر وګڼل شي. ما وویل چي د «سلطانی گواه» موندل ډیر مشکل کار دی. په پورتني مثال کي دغه پوښتني راولاړیږي:

۱ ـ فاضل استاد پوهاند رشاد په رښتیا لوی عالم او ستر محقق دی. آیا دا نامکنه ده چي عالم دي هم کله کله اشتباه وکړي؟

ما د «وفا» په جریده کي ولوستل چي استاذ خپله خبره تیروتنه گڼلي ده. یو رښتوني محقق ته نه ښايي چي د مشهورو عالمانو خبره د کاڼي کرښه وبولي، حتی د کاڼي کرښه هم ویجاړیږي.

۲ ـ ښايي ارواښاد محمد گل خان مومند د (ځ) لیکدود خپل ایجاد بللی وي، خو وروسته داسي آثار لاس ته راغلل چي د وزیر محمد گل خان له زیږیدو نه مخکي لیکل شوي وواو (ځ) یي په همدغه بڼه لیکلی و. د دې خبرې معنا دا نه ده چي د ارواښاد وزیر صاحب به هغه آثار لیدلي وي، کیدی شي دغه یو توارد وي.

۳ ـ د یوې موضوع په باب څه نه لیکل او خاموشه پاتي کیدل د اتفاق معنا نه لري. د پښتنو ځینو مشرانو، لکه خان عبدالصمد خان اڅکزی او وزیر محمد گل خان مومند پر لیکدود باندې ما پخپله کوم انتقاد نه دی لیدلی خو د دې خبرې معنا دا نه ده چي پوهانو د هغوی لیکدودونه منلي دي. ښاغلی قلندر مومند وايي: «نو مونږ مجبور یوو چي د فاضل پوهاند رشاد دا تحقیق د لیکدود په باره کي د افغانستان متفقه موقف وګڼو.»

تاسي مجبور نه یئ چي دا د افغانستان متفق موقف وګڼئ.

۴ ـ د «پټه خزانه فی المیزان» لیکونکي «سلطاني گواه» غلط ثابت شواوس باید بل «سلطاني گواه» پیدا کړي.

د اصلي او جعلي اثر د تشخیص د پاره باید ټول کتاب په مجموع کي د زمان او مکان سره په ارتباط کي وڅیړل شي. که څه هم په دې برخه کي ځیني اصول او موازین شته، خو د نقاد د لیاقت او فراست د تشخیص په برخه کي مهم رول لوبوي. د کتاب نوم، رنګ او کاغذ، املاء، ژبه (لغات، ترکیبونه د جملو جوړښت، سبک style )، محتوا او مضمون (مفکوري، ارزښتونه، عقاید، د تمدن سطح) د خپل وخت او چاپیریال له متداولو معیارونو سره سمون خوري؟ دا ډول پوښتني مهمي دي، باید میخانیکي شکل هم و نه لري.

د مثال په توګه خوشحال خټک ځیني ډیري لوړې مفکورې درلودې چي د ده د عصر نه اوچتي وې. نو که څوک د خوشحال بابا «سوات نامه» یا «دستار نامه» د خپل عصر له معیارونو سره وڅیړي نو کیدی شي چي لیکونکي نوی سبک ایجاد کړی وي، یا یي له ځانه جوړ کړي لغاتونه استعمال کړي وي.

## «پټه خزانه فی المیزان» د کره کتني په تله کي:

کله چي یو کتاب د چا لاس ته ورشي، نو لومړی د کتاب نوم او د مولف نوم له نظره تیروي اغلب احتمال دا دی چي ورپسي به د موضوعاتو فهرست ګوري ـ څو په دې وپوهیږي چي کتاب له څه شي نه بحث کوي او د لوستونکی اړتیاوو ته ځواب ویلی شي که نه ؟ اکثرو لوستونکو ته د کتاب د چاپیدو نیټه او د چاپ ځای هم ارزښت لري خو زه پر دغي موضوع بحث نه اوږدوم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړۍ پوښتنه د کتاب له عنوان نه پیل کوم، د کتاب نوم دی : «پټه خزانه فی المیزان» په دغه نامه کې «پټه خزانه» خاص اسم دی چې لیکونکي دغه نوم ته تغییر نشو ورکولای. د دغه ټکي په پام کې نیولو سره، ویلای شو چې «پټه خزانه فی المیزان» د عربي ژبې ترکیب دی. که چیرې په راتلونکي زمانه کې دغه عربي نوم د یوه ادبي مؤرخ له نظره تیر شي، نو هرو مرو به له هغه سره دا پوښتنه پیدا شي چې آیا دغه نوم د طنز او ملنډو د پاره انتخاب شوی دی او که په دغه وخت کې د پښتو کتابونو د پاره دغه ډول نومونه مروج وو؟ که دغه کار د طنز د پاره شوی وي، نو بیا د مؤلف دغه خبره سمه نه ده چې وایي:

«که زما په نیت څوک حمله کوي یا زما خبره بې دلیله ګڼي، نو دا به له ما سره ډیره لویه بې انصافي وي.» د یوه سړي نیت خو د ده د عمل نه معلومیږي دا خبره به یوې خوا ته پریږدو چې مؤلف نوموړی کتاب په څه نیت لیکلی دی. خو د ده دغه ادعا چې هیڅوک باید د ده خبره بې دلیله و نه ګڼي، د تحقیق له اصولو سره سمون نه خوري. یو محقق هیڅکله په دغسي الفاظو له ځانه دفاع نه کوي چې ځان «عقل کل» وبولي.

بله خبره دا ده که د کتاب عنوان د طنز د پاره نه وي انتخاب شوی نو بیا دا نوم غریب شانته ښکاري. اوس به راشو د کتاب فهرست ته. د کتاب له فهرس (!) نه په لومړي نظر دا څرګندیږي چې د لیکلو ډیزاین یې منطقي تسلسل نه لري او له فهرس نه د کتاب محتوا هم په روښانه توګه نه معلومیږي.

فهرست په دې ډول ترتیب شوی دی:

وړومبۍ خبرې، ابتدایي معروضات، د یونس د دیوان شهادت، بېلګې، تاریخي پس منظر، جدیدیت د پټې خزانې ماخذ، د پټې خزانې راویان، فني اړخونه، اینکرانیزم، متفرقات، ضمیمه الف، ضمیمه ب، اشاریه ا، نومونه، اشاریه ب، کتابونه.

په دغه فهرست کې (وړومبۍ خبرې) په خپل اصلي ځای کې راغلي دي. (ابتدایي معروضات) په خپل مفهوم کې هماغه (وړومبۍ) خبرې دي، خو مونږ به یې د پیژندګلوۍ (introduction) په مفهوم تسلیم کړو. که داسې وي نو د مؤلف اساسي اعتراضونه تقریباً په مقدمه یا پیژندګلوۍ کې ختم شوي دي. (د یونس د دیوان شهادت) په عنوان پسې (بېلګې) راغلي دي ـ خو دا نه ښکاري چې د څه شي بېلګې؟ ورپسې (تاریخي پس منظر) راغلی دی چې بالکل په نامناسب ځای کې کینول شوی دی او د تحقیق له میتود سره سمون نه خوري.

«پټه خزانه فی المیزان» له ټولو ضمایمو سره په (۳۷۳) مخونو کې چاپ شوی ده، په داسې حال کې چې (تاریخي پس منظر) له (۱۴۴) مخ نه شروع کیږي.

د تیسیس (thesis) لیکنې یوه معمولي قاعده داسې ده چې (وړومبۍ خبرې preface) زیاتره تشریفاتي جنبه لري. په هغه کې لیکوال له رهنما استاذ، تایپست، خطاط او داسې نورو څخه مننه کوي. ورپسې د ریسرچ پرابلم یا د څېړنې موضوع او هدف بیانیږي. بیا د پرابلم تاریخي پس منظر څېړل کیږي.

ځینې محققان دا غوره ګڼي چې د تحقیق د موضوع او هدف نه مخکې د لیکنې د موضوع یا پرابلم تاریخي پس منظر ولیکي په هغه کتاب کې د پرابلم حل کولو د پاره پخواني کوششونهاوسنی ضرورت او د موضوع اهمیت شرح شي. ورپسې د تحقیق موضوع او هدف بیان شي. له هغې وروسته د تحقیق اسلوب باندې رڼا اچوله کیږي.

د «پټه خزانه فی المیزان» د تحقیق ډیزاین ځینې څرګندې نیمګړتیاوې لري. کیدای شوه چې فهرست په دې لاندې توګه ترتیب شوی وای:

## فهرست:


وړومبۍ خبرې
تاریخي پس منظر
د کتاب د لیکلو ضرورت، هدفاو د تحقیق میتود
لومړی فصل: د «پټې خزانې» متني کره کتنه
۱ ـ د «پټې خزانې» نوم
۲ ـ د «پټې خزانې» لیک دود او املا
۳ ـ د «پټې خزانې» لغتونه او ترکیبونه
۴ ـ د «پټې خزانې» شعرونه
۵ ـ د «پټې خزانې» سبک او ژبه
دوهم فصل
۱ ـ د یونس د دیوان شهادت
۲ـ د «پټې خزانې» ماخذ
۳ ـ د «پټې خزانې» راویان
۴ ـ متفرقات





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دريم فصل: لنډيز او نتيجه
ضميمه الف
ضميمه ب
د نومونو فهرست
د كتابونو فهرست
ښايي د «پټه خزانه فی الميزان» ليكونكي ووايي چي د ده د كتاب عمده برخه هغه دوې مقالې دي پخوا نشر شوي وي او ده نشو كولای چي ډېراين ته بيخي تغيير وركړي.
تر دې ځايه د ريسرچ پر شكلي اړخ خبرې وشوې، شكلي اړخ د تحقيق د كاميابی د پاره ضرور دی.
اوس به د انتقاد په څرنګوالي بحث وكړو ـ د كار د آسانتيا د پاره به له تصنيف (Classification) نه كار واخلو.
په عمومي ډول د «پټه خزانه فی الميزان» انتقادونه دوه ډوله دي:
لومړی ډول يې هغه انتقادونه دي چي له هدف سره ارتباط لري په ښه ډول طرح شوي دي، خو جامع او مانع نه دي او له همدې لامله هدف ته نه رسيږي.
دوهم ډول يې هغه انتقادونه دي چي له موضوع سره اړه نه لري يعني د كتاب د اصالت او صحت له مسالې سره اړخ نه لګوي. د مثال په توګه، د «پټه خزانه فی الميزان» ليكونكي په (پټه خزانه) كي د سيدال خان ناصر پر بدله انتقاد كوي او وايي چي په دغه بدله كي د وزن او بحر مراعات نه دی شوی. د ښاغلي قلندر مومند الفاظ داسي دي:
«... د سيدال خان ناصر دا بدله د بې بحرۍ او بې وزنۍ د صنعت يو شهكار دی.» (۳۰۴ مخ) دا خبره د «پټې خزانې» د جعليت د پاره سند نه شي كېدای. كه د ښاغلي مومند مقصد دا وي چي شعر پوهاند حبيبي جوړ كړی ځكه چي هغه په وزن او بحر نه پوهيده. نو دا خبره هم سمه نه ده، ځكه چي لوی استاذ حبيبي پخپله هم د دغې بدلې بحر او وزن ته متوجه و او په دې هكله يې داسي ليكلي دي:
«اين بدله كه از طرف يک نفر سپه سالار معروف و دلاور سروده شده از حيث بحر و عروض از نوادر آثار ادبی زبان ملی است و بحر مخصوص دارد كه در بين اشعار پښتو كه اكنون در دست است كمتر ديده شده و حفظ اين وديعه ادبی از غنايم اين كتابست.» (۲۴) د «پټه خزانه فی الميزان» په حواله، (مخ ۳۰۳).
وګورئ ښاغلی محقق قلندر مومند وايي چي د سيدال خان ناصر بدله وزن او بحر نه لري. استاد حبيبي وايي چي نادر بحر او عروض لري. د استاد خبره سمه ده. د «پټه خزانه فی الميزان» د (فني اړخونو) تر عنوان لاندې چي څه ليكل شوي دي، هغه اكثر د كتاب د صحت له مسالې سره تعلق نه لري.
هغه انتقادونه چي په لومړۍ كټيګوري كي راځي او د ليكوال د هدف سره ارتباط لري به ډېر مهارت طرح شوي دي او چا ته چي اصلي حقيقت نه وي معلوم، ډېر ژر د دغه اعتراضونو او انتقادونو تر اغيزې لاندې راځي. كه منتقد په صادقانه ډول خپل اعتراضونه بيان كړي وي، دا د ده مسلم حق دی او زه په خپله دغسي صداقت ته د قدر په سترګه ګورم. خو كه دغه انتقادونه عالماً او عامداً د اذهانو د تېر ايستلو د پاره شوي وي نو د بخښني وړ نه دی. د تحقيق اسلوب ته چي وكتل شي نو دغه وروستی مفكوره په ذهن كي قوت پيدا كوي ځكه ډېر ځله مؤلف يو كلي حكم صادروي په داسي حال كي چي د دغه حكم د صادرولو د پاره ده ټول فاكتونه (facts) او د تحقيق مواد (data) نه دي كتلي. كه كوم خاص غرض په منځ كي نه وي نو هغه څه مجبوريت لري چي د نيمګړو معلوماتو پر استناد يوه كليه قايمه كړي او كلي حكم صادر كړي.
د مثال په توګه، د (هېواد) كلمه دراخله. ښاغلی مومند وايي چي ښاغلي حبيبي د (هېواد) په معنا غلط پوهيدلی دی او فكر يې كړی دی چي (هېواد) وطن ته وايي نو بيا يې د «پټې خزانې» د ليكلو په وخت كي همدغه په غلطه معنا (هېواد) په هغه كتاب كي راوړی دی. د مومند صيب په شان يو ذهين شخص كه د چا د غولولو نيت نه لري په خپله ځان ته قناعت وركولی شي. لومړی په دې دليل چي پښتانه ډېرې زياتې لهجې لري كېدای شي چي هماغه لغت په مختلفو سيمو كي بېلې، بېلې معناوې ولري. د مثال په توګه د پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهر شاه د پاچاهی په وخت كي د لرې پښتونخوا يوه پروفيسر د كابل په يوه كنفرانس كي خوانانو ته توصيه وكړه چي د جمهوريت د پاره كار وكړئ. د كنفرانس ګډون كوونكي حيران شول چي د حكومت ميلمه پروفيسر څنګه د شاهي نظام د ختمولو خبرې كوي. وروسته يو چا ووېل چي په لره پښتونخوا كي جمهوريت، دموكراسی ته ويل كيږي. په دې خبره غلط فهمي له منځه ولاړه. دوهم دا چي منتقد پخپله اعتراف كوي چي (هېواد) د وطن په معنا هم راځي، لكه شمس الدين كاكړ چي وايي:

په هوا مي د كشمير د تورو سترګو
له زړه وياسته نيازمن د خپل هېواد

په دې مقاله كي د دې ګنجايش نشته چي دغه بحث اوږد كړم. خو اصلي خبره دا ده چي ښاغلی قلندر مومند پر نيمګړو معلوماتو(data) استناد كوي، نو ځكه د ده تصميم د (Generalisation) د تحقيق له اصولو سره تطابق نه كوي. څوک چي له حقيقت نه خبر نه وي ډېر ژر د كلي حكمونو تر تاثير لاندې راځي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ

د کلي حکمونو یو څو مثالونه دا دي: ښاغلی منتقد وايي چې د «پټې خزانې» د وړمبی خزانې په ۲۲ شاعرانو کې د اسمعیل، خربښون، شیخ بوستان بړیڅ، شیخ متی، علی سرور لودهي، حمید لودي، عیسی مشواني، سلطان بهلول لودي، خوشحال بابا او رحمن بابا احوال له هیچا نه پټ نه وو. ښاغلی منتقد استدلال کوي چې په دې حساب د «پټې خزانې» نوم صحیح نه دی.
تاسو وګورئ « له هیچا نه پټ نه وو» څومره عام حکم دی او څومره په غرور او بې پروایی صادر شوی دی. د ښاغلي منتقد په نظر، ټول خلک د پښتو د ادبي تاریخ پوهان او متخصصان دي که څه؟ حتی که ټول خلک د پښتو ادب متخصصان هم وي نو د «پټې خزانې» له چاپیدو نه مخکې خو د نوموړو ټولو شاعرانو له شعرونو سره اشنا نه وو. که فرض محال دا هم ومنو نو بیا خو د (۲۲) تنو شاعرانو له جملې نه یوازې د لسو تنو شاعرانو احوال به معلوم و، د دولس تنو شاعرانو احوال خو چا ته نه و ښکاره یعني له اکثرو څخه یې خلک ناخبره وو. د همدې اکثریت په لحاظ هم مؤلف حق درلود چې خپل کتاب «پټه خزانه» وبولي.
ښاغلی منتقد وړپسې لیکي: «د محمد هوتک په زمانه کې هره قلمي نسخه، پټه خزانه وه ځکه چې هغه وخت چاپخانې نه وې.» (مخ ۳) دلته بیا عام حکم په ډیرې بې پروایی صادر شوی دی. که دا خبره سمه وګڼله شي نو د حضرت سعدي ګلستان او بوستان، د حافظ شیرازی دیوان، د رحمن بابا دیوان به هم د پټې خزانې په لړ کې راشي. محمد هوتک د خپل کتاب د پاره ډیر مناسب نوم اختیار کړ ځکه چې د پښتنو ښه زیات اکثریت له خپله ادبي مشاهیرو څخه نه وو خبر. د تعجب ځای دی چې دغسې مناسب او معقول نوم ولې د «پټې خزانې» د صحت مساله راپورته کړه؟
که ښاغلی منتقد د تحقیق له میتود (اسلوب) سره آشنا وای نو ده به دغسې ادعاګانې کولې، کومې قلمي نسخې چې ما کتلي دي په هغو کې (ځ) نشته یا دا چې: کومې نسخې د پېښور د پښتو اکیډمی په کتابخانه او پلانی پلانی کتابخانه کې ما پلټلي دي په هغو کې پیرګرافونه نشته. لیکن ښاغلی منتقد داسې حکم کوي: «د پیراګرافونو اهتمام خو د شلمې صدۍ جدت دی او شاید چې د انګریزی د روایت په تتبع کې د دنیا ټول ادبونو ته راننوتي دي.» که ښاغلی منتقد د پښتو، فارسی او عربي ټولې قلمي نسخې نه وي کتلي (او دا کار که ناممکن نه وي نو سخت مشکل خو دی) په دې صورت کې به ده داسې ویلي وای:
تر کوم ځایه چې ما ته معلومه ده د پښتو په هغه قلمي نسخو کې چې له شلمې صدی نه مخکې لیکل شوي دي د پیراګراف استعمال نه و مروج.
وړپسې بیا عام حکم کوي او وايي: «د عربی، فارسی او پښتو قلمي کتابونو یو عام روایت دا هم دی چې په صفحاتو په هندسو کې شمېر نشي لیکلی کیدی» دلته ده بیا د نیمګړو معلوماتو په اساس کلي حکم صادر کړی دی.
ځوان محقق زلمي هېوادمل د ده دغه ادعا سمه نه ده ګڼلي او سند یې ورته ښودلی دی.
وړپسې بیا کلي حکم صادروي او داسې لیږي: «د پښتو قلمي نسخو کې (د)، (دا)، (ده) یو شان (د) لیکلی شی.» د پښتو محققانو ثابته کړې ده چې دا دعوه هم بې ځایه ده.
ښاغلی منتقد پر محمد هوتک یا په اصل کې پر استاد حبیبي اعتراض کوي چې ولې یې غلط ترکیبونه جملې او لغتونه استعمال کړي دي، له د «حمد و ثنا ده هغه خدای لره» په ځای یې «حمد و ثنا ده هغه خدای ته» یا «د انسان زړه انشراح پرې مومي» په ځای «د انسان زړه انشراح په مومي او د «کښم» په ځای «کاږم» او داسې نور.
دلته ښاغلی منتقد د خپل انتقاد مقام ډیر راټیټ کړی دی ځکه هغه فکر کوي چې د ده خپله لهجه د پښتو معیاري ژبه ده او استاد حبیبي غلطه پښتو وايي.
هسې خو د ښاغلي منتقد پر ټولو اعتراضونو بحث کول په یوه مقاله کې نه ځاییږي. زه غواړم د مقالې لنډیز وړاندې کړم: د ښاغلي قلندر مومند «پټه خزانه فی المیزان» د تحقیق د اسلوب له نظره غټې نیمګړتیاوې لري. د کتاب د تحقیق ډیزاین سم نه دی. د مضمون په لحاظ د کتاب ځیني برخې د لیکوال د اصلي هدف سره ارتباط نه لري د هغو معلومات نیمګړي دي، له واقعیت سره تطابق نه کوي او له دې لامله د کتاب تعمیمونه (Generalizations) علمي اعتبار او تحقیقي ارزښت نه لري.

په درناوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ